AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

آصف بهاند ۲۰۲۰/۱۲/۲۷

# لتیه

کــړو وړو لارو کـــې ســـر یــمـــه جـــانـــان لـــتـوم
پـــردو مـــلـــکـــو کـــې ســرگـــردان یــمــه خپلوان لتوم

پـه مـلا کې درد، په پښو کې درد، گرځېدای نه شمه نور
گـــرېـــوان مـې خــيـــرې دی روان یـمـه گرېوان لـتـوم

خپـلـه خپل ځـان تــه ازاد وايــو، نـور مـريان مو بولي
زه خــو پـــوه نـــه شومـــه، روان يـمـه مـريـان لـتـوم

زمـــوږ بـاچـا په لوړ غږ ويـلـې و: «ما شير استيم، شير»
مــا خـــو و نـــه لـــيـد رانـه ورک دی، ځم زمـريان لتوم

زمـان بـدل شـو شرمښان ځـان تـه پـړانـگـان وايي اوس
زه ســودايـــي شـــومـــــه روان يـمـــه پـړانـگان لـتـوم

گـل گـلـسـتـان مــې د جـگـړې پـه اور کې لـولـپـه شو
مـــلا مـــې تـــړلـــې ده پسې گـرځـم، گـــلـسـتان لـتـوم

د ژونـــد نـــاخـوالـو کـړمـه مـړاوی او سپـيـنـږيری شومه
امـيد مې شـتـه دی، خپل وطـن تـه، اوس ځـوانـان لـتـوم

د شپو او ورځـو، کال و مياشت حساب ورک شوی رانـه
وخـــت تــبـــدلی دی، پـسې ځـمـــه زمـــان لـــتـوم

وچـکـالـي راغـــلـــه، کلی کـــور او سمـه غر وچ شوي
تـــقـــديـــر مـــې وچ دی، ســتـونـــی وچ، ځمه باران لتوم

دومـــره پـــه نـــورو ارمـــانـــو کـې سره ومروړل شوم
ځـان مې ورک کړی دی، کـتـاب کې اوس خپل ځان لتوم

دا دی شـل کـــالـــه شـول، پــه شلـو کـلـو وگـرځېدم
ارمـــان مـې ورک دی، دا شل کـــالـــه خپـل ارمـان لتوم



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په خیر و لولئ

دا ځینې خلک ځانونه بولي مسلمان، خو نه دي
یم سرګردان ورپسې ګرځم مسلمان لټوم

وطن له پوهو خلکو ډک دی تش په لافو او ګپ
تر پوهو تېر یمه، لګیا یمه نادان لټوم

پانګه د ژوند مې د شعرونو څو لغاته دي بس
د چا په کار نه دي که هر څومره دوکان لټوم

وصلت، وصلت مې ویلې ډېر ورپسې وګرځېدم
ترلاسه نه شو، اوس یم اړ، ځمه هجران لټوم

هرې مرغۍ ته ځان بلبل ښکاري وزرې وهي
بلبلان ډېر شول موږه ستړي، اوس کارغان لټوم

د هر ظالم او ظلم اور ته غلی کښېناستمه
تر بریده تېره ناروا شوه، ځم توپان لټوم

له ابادۍ، کلي او ښار نه څه ترلاسه نه شول
له ښاره وزمه روان یم بیابان لټوم

د وخت حالاتو مې نیم زړه راته ذرې ـ ذرې کړ
دا نیم چې پاتې دی، ځم دې ته اوس سُندان لټوم

ګټو پسې څومره زحمتونه وو چې تېر مې نه کړل
ګټه او وټه رانه پاتې شوه تاوان لټوم

شعر شاعرۍ کې خو مې ډېرې منډې ترړې وکړې
خوند یې ونکړ اوس مجبور شومه داستان لټوم

۲۰۲۰/۱۱/۰۶
هېدرسلیف
ډنمارک


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ